د افغانستان اسلامي امارت

# د رياست الوزراء اقتصادي معاونيت

## د دفتر عمومي رياست

د افغانستان اسلامي امارت
د رياست الوزراء اقتصادي معاونيت
د دفتر عمومي رياست
د صادري نمبر: ۱۴۰۸ نېټه ۱۴۴۷/۳/۲۹

**گڼه:** **نېټه: / /۱۴۰۴**

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمنِ الرَّحِيم

**د کانونو او پټرولیم محترم وزارت ته!**

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته

**موضوع: د کندهار له معروف ولسوالۍ څخه تر ارغستان ولسوالۍ پورې د ۸۰ کیلومتره سړک د رغونې د پروژې په اړه**

د ټولګټو محترم وزارت له اقتصادي کمېسیون څخه د یونیورسل ودانیز شرکت لپاره د کندهار ولایت له معروف ولسوالۍ څخه تر ارغستان ولسوالۍ پورې د ۸۰ کیلومتره سړک د رغونې پروژې په بدل کې د بامیان ولایت د یکاولنګ ولسوالۍ اړوند د سرتوپ کلي د سربو او جستو کان د قرارداد د منظورۍ غوښتنه کړې وه. یاده موضوع د اقتصادي کمېسیون د ۱۴۴۶/۱۰/۱۷ نېټې (۹) ناستې ته وړاندې او په اړه یې په اووم بند کې دا ډول پرېکړه وشوه: **«د کانونو او پټرولیم او ټولګټو وزارتونه دې له قراردادي شرکت (یونیورسل ودانیز شرکت) سره ناسته وکړي، د کندهار ولایت د معروف له ولسوالۍ تر ارغستان ولسوالۍ پورې د ۸۰ کیلومتره سړک د رغونې پروژې په بدل کې د بامیان ولایت یکاولنګ ولسوالۍ د سرتوپ کلي د سرپو او جستو کان د قرارداد د منظورۍ غوښتنې موضوع دې په هراړخیزه توګه وڅېړي او راپور دې اقتصادي معاونیت ته وړاندې کړي».**

په دې اساس هیله ده چې د پورتنۍ پرېکړې د اجرااتو په اړه راپور له دې معاونیت سره شریک شي. والسلام

**ډېره مننه**

**مولوي عبدالله عزام**

**د رياست الوزراء د اقتصادي معاونيت**

**د مقام د دفتر عمومي رئیس**

**کاپي:**

د ټولګټو محترم وزارت

د اقتصادي چارو محترم ریاست

Address: Sedarat Marmarin Palace - Malik Asghar Square - Kabul - Afghanistan
پته: صدارت - مرمرینه ماڼۍ - د ملک اصغر څلور لارې - کابل - افغانستان

Contact number: 0202105504
د اړیکې شمېره: 0202105504